AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

عزیزالله عزیز

نیټه 21/02/2010

# فارسي – یک تلویزیون؛ څو نور اړخونه، څو نورې اندیښنې

له بده مرغه دا دیرش کاله کیږي چې افغانستان د بیلا بیلو هیوادونو ترمنځ دسیالیو ډګر دی، په تیرو دیرش کالو کې دا سیالی عمدتاً سیاسي او پوځي وې، خو اوس افغانستان د بیلابیلو هیوادونو د سیاسي او پوځي سیالیو د ډګر په خوا کې د تبلیغاتي سیالیو په ډګر هم اوښتی، ایران امریکا ته شیطان کبیر وایي او امریکا ایران شیطاني محور ګڼي. افغانستان د نورو هیوادو د سیالیو په خوا کې د (شیطان کبیر) او(شیطاني محور) له سیالیو څخه هم زوریږي. د دې دواړو هیوادو تربګنیو یوه بیلګه د فارسي یک تلویزیون دی. سره له دې چې د فارسي یک تلویزیون په اړه ښاغلي عبدالصمد سلیم د ویسا د و رځپاڼې د دلوې د ۲۲مې نیټې په ګڼه کې یو ښه په زړه پورې مطلب لیکلی، خو زه غواړم د همدې تلویزیون په یو څو نورو اړخونو او یو څو نورو اندیښنو هم وغږیږم.

ښاغلی سلیم د دې تلویزیون په اړه لیکي دا تلویزیون چې په دوبی کې نشرات لري مخاطبین یې ایرانیان دي او عملاً د ایران د اوسني نظام پرضد کار کوي. د فارسي یک ټول نشراتي مواد په کابل کې د طلوع تلویزیون په ستدیو ګانو کې جوړیږي او بیا دوبي ته لیږدول کیږي، طلوع تلویزیون د همدې کار لپاره ترسلو ډیر هغه هلکان او نجوني چې په ایران کې زیږیدلي او په ایراني پارسي لهجې خبرې کوي نیولی دي.

د فارسي یک تلویزیون دموبي د شبکې او د ستار په نوم د رسنیو یوه شبکې پورې اړه لري چې دفتر یې په هانګ کانګ کې دی، د دې شبکې اصلي خاوند د نیویارک د نیوز کارپوریشن او مشر یې د رابرت مرداک په نوم یو یهودي دی، د نیوز کارپوریش د فاکس نیوزاو اسکاي تلویزیوني شبکې څخه پرته د دیلي تلګراف، وال ستریت ژورنال، نیویورک پوست، سنډې ټایمز ا و ټایمز په خوا کې په سلهاوو نورې چاپي او غږیزې رسنیو ملکیت هم پر غاړه لري. د یادولو وړه ده چې دهمدې شرکت د( سن) ورځپانه او( نیوز اوورلډ )مجله عمدتاً د جنسي مسایلو په اړه خپروني لري. په افغانستان کې د موبي د شبکې د رسنیو( طلوع او لمر تلویزیونونه او ارمان رادیو) ملکیت د محسني د کورنی پورې اړه لري چې استرالیايي تابعیت لري. او اوس دا دواړه شبکې په ګډه د فارسي یک تلویزیون لپاره کارکوي.

سره له دې چې د دې تلویزیون د نشراتو د پیلیدو لړې ورځې کیږي خو همدا اوس یې په ایران کې ډیر سخت غبرګونونه راپیدا کړي، د ایران ځینی کار پوهان دا شبکه یوه صهیونستي شبکه ګڼي. د دې شبکې د نشراتو په اړه ویل کیږي چې عمدتاً داسي سریالونه او د موسیقي پروګرامونه خپروي چې په ځوانانو کې د اخلاقي انحرافاتو سبب ګرځي، د شبکې عمومي پیغام د ښځي او خاوند یو بل سره د خیانت، له واده څخه دمخه د هلکانو او نجونو ترمنځ د جنسي اړیکو عادي ښودل او د فیمینیزم ترویجول دي.

په زړه پورې ده چې د افغانستان دعلماوو شوراي ورته نظرد طلوع تلویزون په اړه هم لري چې اوس د فارسي یک لپاره هم کار کوي، داسي مالومیږي چې طلوع او فارسي یک ترمنځ یواځې د بزنس یو والی نه دې، بلکې د موخو یو والی هم لري.

هغه اندیښنه چې ایرانیان یې د فارسي یک تلویزیون په اړه لري، افغانان یې هم د طلوع او فارسي یک په اړه لري، داسي ښکاري طلوع او فارسي یک دواړه په افغانستان او ایران کې د غرب د فرهنګي یرغل لپاره کار کوي، دغرب فرهنګي یرغل هم افغانستان ته د اندیښنې وړ دې او هم ایران ته.

د ایران رسنی او د ایران ولس ښایي دا پیاړتیا ولري چې وکولاي شي د طلوع او فارسي یک د فرهنګي یرغل پر وړاندې ودریږي او مخه یې ونیسي، خو د افغانستان لپاره دا یوستره ستونزه او ستره ننګونه ده، دا کار موږ ته ستره ستونزه او ستره ننګونه ځکه دی چې د لته دغرب فرهنګي یرغل د غرب سیاسي ملاتړ هم شاته لري، ښایي همدا دغرب سیاسي ملاتړ وي چې دادې تر دوه کالو ډیره موده کیږي چې د طلوع تلویزیون د سریالونو دوسیه لا اوس هم د کابل ښار په ابتداییه محکمه کې پرته ده خو فیصله پرې نه کیږي.

افغانستان ته یواځې دا اندیښنه نه ده چې امریکا دخپلو اهدافو په خاطر د ایران پرضد زموږ خاوره کاروي بلکه دا څرګنده ده چې دا کار زموږ د ملي ګټو سره کوم تړاو نلري، نه یواځې دا چې تړاو نلري، بلکې دا کار زموږ په زیان هم دی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

افغانستان لکه څرنګه چې ښاغلی سليم وايي اوس دې ته اړتيا لرې چې ګاونډيانو سره ښې اړيکي ولري، نه دا چې د بل چا د ګټو په خاطر ګاونډيانو ته په يو ګواښ واوړي.

د دې اندېښنې په خوا کې افغانستان بايد د امريکا د ګټو په خاطر د ګاونډيانو دښمني وانخلي، همدا ډول د دې اندېښنې په خوا کې د طلوع او فارسي يک تلويزيونونه دلته د غرب د فرهنګي يرغل لپاره لاره اواروي، زموږ اصلي انديښنه داده چې فارسي يک تلويزيون د پان ايرانيزم د فاشيستي موخو لپاره کار کوي.

دا تلويزيون پخپله ځان د پان فارسي لومړنی تفريحي تلويزيون بولي، د ستار تلويزيوني شبکه اود محسني دموبې رسنيزه شبکه دا ټول زيار يواځې د دې لپاره نه باسي چې په اصطلاح د نړۍ پارسي ژبو لپاره تفريح وړاندې کړي، بلکې اصلي موخه يي پان ايرانيزم يا د ايران کبير فاشيستي مفکوره ده، پان ايرانيزم چې د افغانستان وحدت او د شتون ته ترټولو ستر ګواښ دي.

تصادفي نه ده چې د طلوع تلويزيون چې د فارسي يک تلويزيون د نشراتو د جوړولو په مرکز اوښتې او دواړه سره په ګډه کار کوي، لا ډېر دمخه په افغانستان کې د افغانستان د اساسي قانون د حکمونو پرخلاف د افغانستان دملي ترمينالوژۍ د له منځه وړلو هڅې پيل کړي، د ملي ترمينالوژۍ له منځه وړل او په افغانستان کې د ايراني فارسې د رايجولو موخه همدا ده په کابل او تهران کې د فارسي ويونکو ترمنځ بيلتون ونه شي او ټولې هغه کربښې وراني شې چې د يو ملت په توګه افغان له ايراني څخه بيلوي.
د ملي ترمينالوژۍ د له منځه وړلو هڅې، د افغاني هويت څخه انکار او د افغان د ټکي پرځای د افغانستاني د ټکي کارول ، ټول هغه ګامونه دي چې په افغانستان کې ديو شمير کړيو لخوا اخستل کيږي ترڅو افغاني هويت خپل ځای ايراني هويت ته پريږدي او د (ايران کبير) فاشيستي مفکورې ته زمينه برابره کړي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ